دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او له اهل کتابو سره پرته له غوره اسلوب په بل ډول بحث مه کوئ مگر له هغو سره چې بې انصافي یې کړی.
غوره اسلوب دا دی چې ووایئ: موږ په هغه څه ایمان راوړی چې موږ ته نازل شوې او زموږ او ستاسې معبود یو ذات دی. او موږ همغه ذات ته پوره غاړه اینې ده.

(العنکبوت: ۴۶ آیت)

درس حدیث

له عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماته د خپلو ځانونو په هکله د شپږو کارونو ضمانت راکړئ زه به درته د جنت ضمانت درکړم: ۱. کله مو چې خبرې کولې رښتیا ووایئ. ۲. کله مو چې ژمنه او وعده وکړه وفا پرې وکړئ. ۳. کله چې یو چا درسره امانت کېښود نو سلامت یې ورو سپارئ. ۴. خپل شرم ځایونه له بدو وساتئ. ۵. خپلې سترگې د نامحرمو له لیدو نه ښکته کړئ. ۶- او لاسونه مو چاته د زیان رسولو نه راښند کړئ.

(مسلم)

شهادت دریم کال، ۲ مه گڼه، پرله پسې ۱۰۲ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وري ۱۷ مه د۱۴۳۲ هـ ق د جمادی الاول۲ مه د۲۰۱۱ م د اپریل ۶ مه

لویه څارنوالی:

ولسي جرگه زموږ د استیضاح کولو صلاحیت نه لري

PROPERTY OF ACKU

کابل، رسنی:
د افغانستان لویه څارنوالی وایي، ولسي جرگه د لوی څارنوال د استیضاح کولو صلاحیت نه لري له همدې امله به لوی څارنوال محمد اسحق الکو د شنبې په ورځ د ولسي جرگې غونډې ته حاضر نشي.

د ولسي جرگې غړو تیره ورځ په غوڅ اکثریت پریکړه وکړه، چې لوی څارنوال محمد اسحق الکو د شنبې د ورځې په غونډه کې استیضاح کړي، خو د لویې څارنوالۍ ویاند امان الله ایمان نن سهار ازادی راډیو ته په ځانگړې مرکې کې وویل:
"موږ څو لیکونه چې ولسي جرگې ته واستول ډیر واضح مو ورته په کې ویلي وو، چې د لوی څارنوال استیضاح د ولسي جرگې په واک کې نه ده او تر څو چې په دې اړه خپله ولسمشر کومه پریکړه نه وې کړې،لوی څارنوال به په خپل ځای پاتې وی."
ولسي جرگې تیره ورځ لوی څارنوال اسحق الکو د استجواب لپاره هم ور غوښتی و، خو هغه له ورتگ نه یې ډډه وکړه.

اختلاف در کابینۀ اوباما بر سر خروج از افغانستان

خبرگزاری فارس:
مشاورین سیاسی رئیس جمهوری امریکا معتقدند زمان آن رسیده که وعده خروج نظامیان از افغانستان بطور کامل تحقق یابد، در حالیکه نظامیان این کشور این اقدام را غیرعاقلانه و به نفع نیروهای طالبان می‌دانند.
به گزارش فارس به نقل از روزنامه «نیزاویسیمایا گازیه تا»، حمله و کشتار کارکنان سازمان ملل متحد در افغانستان باعث بروز بحث جدی در واشنگتن در این باره شده است که آیا براستی می‌توان در این جنگ به پیروزی رسید.

بقیه در صفحه ۴

د تسلیت پیغام

په ډېرې خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړی چې د بادغیس ولایت مشهور جهادي قوماندان مولوی جلال الدین "تور لنگوټی" په حق ورسېد.
انا لله وانا الیه راجعون
مولوي جلال الدین "تور لنگوټی" د مولوي میر علم مرحوم زوی د بادغیس ولایت د غورماچ ولسوالی اوسېدونکی و، چې د ځوانی لومړي وختونه یې د دیني علومو په زده کړه تېر کړي وو، کله چې زموږ په گران هېواد کې روسي برېڅو واک ترلاسه کړ، مولوي تور لنگوټی له هماغه لومړیو وختونو د مقدس جهاد په لیکو کې شامل او بیا لړه موده وروسته په سیمه کې یو نومیالی، قهرمان جهادي قوماندان و، او د خپل ژوندانه زیاته برخه یې د سیمې د مجاهدینو مشري پر غاړه لرله او دهمدغه جهاد او نیک شهرت له لامله د سیمې په مخورو شخصیتونو کې شمېرل کېده، مرحوم د وروستۍ ناروغۍ له لامله د روان کال د وري د میاشتې په دیارلسم نېټه وفات شو.
د حزب اسلامي افغانستان مشرتابه او اجرائیه شوری د نوموړي وفات یوه نه جبرانېدونکی ضایعه بولي، په داسې حال کې چې خپل ځانونه د نوموړي له دینداري او مجاهدې کورنۍ سره په دغه غم کې شریک بولي، مرحوم ته د لوی الله جل جلاله په دربار کې د بخښنې او د جنت لوړو مرتبو دعا کوي.
اروا یې ښاده، او یاد دې تل وي

سرپرست وزیران به ژر ولسي جرگې ته د اعتماد رایې د ترلاسه کولو لپاره معرفي شي

کابل، رسنی:
د ولسمشر کرزي ویاند وویل چې ژر به د اوو وزارتونو لپاره، چې اوس د سرپرستانو له لوري اداره کېږي، نوي وزیران معرفي شي.
د عامې روغتیا، ترانسپورت، لوړو زده کړو، مخابراتو، اوبو او انرژۍ او ښاري پراختیا وزارتونه له یونیم کال راهیسې د سرپرستانو له لوري اداره کېږي.
هغه کسان چې تېر کال د دغو وزارتونو لپاره د ولسمشر کرزي له لوري ولسي جرگې ته د اعتماد رایې د ترلاسه کولو په خاطر وړاندې شوي وو د تېرې ولسي جرگې غړیو رد کړل.
داسې اوازې دي چې ولسمشر کرزی به ممکن د ځانگړې محکمې د فسخه کولو په بدل کې پر ولسي جرگې خپلو سرپرستو وزیرانو ته د اعتماد رایه ترلاسه کړي.
په تېرو څو اوونیو کې په کابل کې تودې اوازې دي چې د ولسي جرگې ذ یوشمېرغړیو او ارگ ترمنځ د داسي یوې معاملې پرسر خبرې روانې دي.
د ولسمشر کرزي ویاند وحیدعمر چې، یوې خبري غونډې ته څرگندونې کولې، وویل اوس ولسمشر کرزي پتیلي ده چې د ولسي جرگې په غوښتنه د کابینې پاتې غړي د اعتماد رایې د ترلاسه کولو لپاره ورمعرفي کړي.
دا په داسي حال کې ده چې معترضو کاندیدانو له ولسمشره غوښتې چې د کابینې غړي د اعتماد رایې د ترلاسه کولو لپاره ولسي جرگې ته معرفي نه کړي څکه چې د ولسي جرگې ډېر غږي په تقلب بریالي شوي او ممکن د خاصې محکمې د پرېکړې په نتیجه کې ورڅخه د وکالت حق واخیستل شي.
د ډېرو کارپوهانو په نظر مخکې تر دې چې

پاتې ۴ مخ

یوه افغان پولیس د ایساف دوه سرتېري ووژل

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې په افغانستان کې د ناټو ترمشرۍ لاندې د ایساف ځواکونه وایي چې یوه افغان پولیس د ایساف ځواکونو په اډه کې دننه د ایساف دوه سرتېري ووژل.
ایساف تر دې دمه د دې پېښې د ځای او د وژل شویو عسکرو د ملیت په باب څه نه دي ویلي خو یادونه یې کړې چې د لومړنیو مالوماتو له مخې افغان سرتېري د سرحدي پولیسو یونیفورم په تن وو چې د ناټو تر مشرۍ لاندې د ایساف ځواکونو په لور یې ډزې وکړې.
ایساف دا هم ویلي چې حمله کوونکی افغان په تېښته بریالی شوی دی.

پاتې ۴ مخ

اعزامی

آفت اسارت ذهنی

صفحه دوم

محمدخلیل

له روان ناورین څخه څنگه وتلی شو؟

دریم مخ

در تجمعی اعتراضی؛

محصلین پوهنتون کابل شعار "مرگ بر امریکا " سر دادند

خبرگزاری فارس:
صبح روز سه شنبه صدها محصلین افغان، با تجمع در مقابل پوهنتون کابل، هتک حرمت کشیش امریکایي به قرآن کریم را با شعار "مرگ بر امریکا "محکوم کردند.
تظاهرات کنندگان با سردادن شعار "مرگ بر امریکا "، نفرت و انزجار خود را از اقدام کشیش موهن امریکایي ابراز داشتند.
افغانستان در چند روز اخیر شاهد تظاهرات های گسترده ای بر ضد این اقدام کشیش امریکایی بود که در برخی از شهرها، این تظاهرات به خشونت کشیده شد

بقیه در صفحه ۴

د ایران او افغانستان ترمنځ د مجرمانو تبادلې ته لاره اوارېږي

کابل، رسنی:
د ایران ولسمشریوه لایحه توشیح کړه، چې پراساس به د دغه هېواد او افغانستان ترمنځ د مجرمانو تبادلې ته لار اوارېږي.
د افغانستان د عدلیې وزارت وایي، چې له ایران سره یې یوه موافقه لاسلیک کړې وه چې د هغې له مخې به ایران افغانستان ته د افغان بندیانو دقیق شمېر اعلان کړي.
ویل کېږي،ډېرشمېرافغان بندیان د ایران په محبسونو کې بې برخلیکه شپې ورځې تېروي.
د ایسنا خبري اژانس د راپور له مخې دا قانون د ایران د نظام د مصلحت شورا او پارلمان له لوري تصویب شوی وو، چې دا دی اوس د ولسمشر له لوري هم لاسلیک شو څو د ایران او افغانستان ترمنځ د مجرمانو استرداد یا

پاتې ۴ مخ

هلیکوپترهای روسی دوباره در فضای افغانستان به پرواز در می آیند

صدای امریکا:
یک نشریه روسی مطلبی را تحت عنوان "روسیه در ماورای سرخط اخبار" به نشر رسانیده است. نشریه نگاشته است به زودی هلیکوپتر های روسی در فضای افغانستان نمودار خواهند شد. نشریه می نویسد مطابق به یک قرارداد بین ناتو و امریکا از یک طرف و جناح روسیه از جانب دیگر این کشور آماده شده است تا برای افغانستان ۲۴ بال هلیکوپتر نوع "ام ای هفده" را برای قوای هوایی آن کشور فراهم نماید.
این مطلب را روزنامه کومرسانت به نشر رسانیده است. نشریه می نویسد که تمام جوانب این مسأله سنجیده شده و قرارداد آن در این نزدیکی ها به امضأ خواهد رسید. نشریۀ روسی می نویسد که امریکا به نمایندگی از ناتو در مذاکرات مربوط به خریداری این هلی کوپترها شرکت ورزیده و به

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د قرآن کریم نه د دفاع صحیح لاره

له څه شک پرته په امریکا کې د یوې کلیسا د کشیش له خوا د قرآن کریم د سوځولو ناروا عمل خورا دردوونکی او غمونکی دی، مسلمانان چې دهغه ددغې کرغېړنی کړنې په خلاف ځومره مظاهرې وکړي قانوني او فطري حق یې دی، خو دا چې مسلمانان پخپلو مظاهرو کې د خپلو مسلمانانو ورونو په وژلو او د عامه وګړو د ملکیتونو پر سوځولو لاس پورې کوي دا هم خورا دردوونکی او بو ګنوونکی عمل دی.

د اسلام سپېڅلی دین دا لارښوونه کوي چې مسلمانان دې په هر حالت کې د عدالت او انصاف لمنه پرې نږدي د احساساتو او جذباتو په ډند کې دې داسې لاهو نه شي چې د حق او باطل ترمنځ توپیر ونکړی شي، ګناه یو چا کړي وي او سزا بل چاته ورکړي.

متاسفانه چې موږ مسلمانان په ځینو کارونو کې له احساساتو او جذباتو څخه کار اخلو. په داسې حال کې چې زموږ دین په هر یو کار کې د تعقل او ژور فکر د خپلولو تأکید کړی دی. د اسلام سپېڅلی دین نه د تشو احساساتو او جذباتو دین دی او نه هم له عقل او استدلال نه خالي، بلکې دا یو داسې روښان او مدلل دین دی چې سراسر د انسانیت خیر ښېګڼه پکې رانغښتل شوی دی. له کومې ورځې نه چې آخري پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم مبعوث، او آخري الهی کتاب وربانديې نازل شوې له همغې ورځې نه ډېرو بدبختو مشرکانو او ملحدینو دهغوی په خلاف د بغاوت او دښمنۍ بیرغ اوچت کړی چې تر قیامته به روان وي.

هغوی به محمد صلی الله علیه وسلم ته د لیوني، جادوګر، ساحر، او قرآن کریم ته به د زړو کیسو د کتاب نسبت کاوه، نن هم د هغوی پیروان د محمد صلی الله علیه وسلم او سپېڅلی آسماني کتاب قرآن کریم په خلاف خپله کرکه او دښمني په مختلفو بڼو کې ښکاره کوي. که څه هم دهغوی دغه کړنې واقعاً د زغملو نه دي او پر خلاف یې عکس العمل د مسلمانانو فطري او قانوني حق دی، مګر پوښتنه داده چې په اوسني وخت کې چې موږ کوم عکس العمل د هغوی پر خلاف ښکاره کوو آیا دا د اسلام د سپېڅلی دین له روح سره برابر دی او که نه؟ ! آیا ددا ډول عکس العمل ښودلو سره د اسلام خدمت کوو او که د اسلام د دښمنانو؟ څرګنده خبره ده چې په اسلام کې د دا ډول مظاهرو او د خپلې کرکې د ښکاره کولو دا طریقه چې د خپلو مسلمانو ورونو وینې توی کړو، دهغوی دوکانونو، موټرو او املاکو ته اور واچوو سراسر د اسلام له روح نه منافي او باغیانه عمل دی.

آخر دا کوم انصاف دی چې یو بدبخت کشیش دې په امریکا او یا اروپا کې قرآن کریم ته اور واچوي مګر د افغانستان مسلمانان دهغه انتقام پخپل هېواد کې د خپلو مسلمانو ورونو پر وژلو، د دوکانونو، موټرو او املاکو پر سوځولو واخلو؟ !

مهربان الله جل جلاله خو په قرآن کریم کې ددې خبرې تأکید کړی دی چې د بې ګناه مسلمانانو ژوند او مال ته دې په درنښت وکتل شي، د یو بې ګناه انسان وژنې ته یې د ټول انسانیت وژنه ویلې او ددې سزا ابدي جهنم ښودل شوی ده.

چې دا بې ځایه احساسات او جذبات نه دي نو بیا څه دي؟ دا به کوم عقل او منطق ومني چې د یو کشیش د مجرمانه عمل په تړس کې دې د خپل مسلمان ورور سر او مال ته نقصان ورسول شي او پخپل لاس دې د خپل هېواد امنیت تالا ترغه کړی شي، که موږ خپل لدې لیونتوب او جذباتي کړنې نه لاس په سر نه شوو بیا خو به د اسلام او مسلمانانو دښمنان نور هم د قرآن کریم او نورو مقدساتو د بې حرمتي جرئت وکړي په یوه غشې به دوه ښکاره وکړي، یو د دیني مقدساتو سپکاوی او بل پخپله د مسلمانانو په لاس د مسلمانانو وژنه.

د هېواد په مختلفو ولایتونو کې چې د امریکایي کشیش له خوا د قرآن کریم د سوځولو په خلاف کومو جذباتي مظاهره چیانو د خپلو هېوادوالو ورونو وینې وبهولې او مالونو ته یې اور واچاو آیا ددې درد او تاوان د قرآن کریم سوځوونکي کشیش او دهغه ملګرو نصاراو ته ورسید او که مسلمانانو ته؟ ګناه چا کړی وه او سزا چاته ورکړی شوه، د قرآنکریم سوځوونکي خو له خپلې کورنی سره آرام او خوشاله ناست دي مګر د بې ګناه وژل شوي افغان مسلمان په کور کې ویر او غمونه دي.

زموږ دغه غافل ورونه دې په دې خبره هم غور وکړي چې د قیامت په ورځ به د الله جل جلاله ددې پوښتنې څه ځواب ورکوي چې خپل مسلمان هېوادوال یې په کومه ګناه کې وژلي دي؟ !

په اسلام کې د کفر، شرك او الحاد مقابله داسې نه ده ښودل شوې چې

پاتې ۴ مخ

آفت اسارت ذهنی

اعزامی

به پیشواز حلول سال نو و در آستانهٔ پروسهٔ انتقال تدریجی مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای امنیتی داخلی، هفته گذشته شورای وزیران نشست فوق العاده ای داشت و آجندای آن بحث روی چگونگی انتقال مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به اردوی ملی و پولیس ملی کشور بود.

درین نشست رئیس جمهور کشور حامد کرزی با ایراد سخنان رهنمودی و سرنوشت ساز، ظاهراً با اعضای کابینه حرف می زد، ولی روی سخنش، در حقیقت به آحاد مردم بود؛ او در سخنانش ملت را مخاطب قرار داده گفت: "انتقال یک پروسهٔ ملی و برگشت ناپذیر است که طرح آن با دقت و سنجش کامل ریخته شده و اوضاع کنونی کشور ایجاب می کند تا در شیوهٔ کار خود تغییرات مثبت ایجاد کنیم و با احساس ملی و آینده نگری در بارهٔ فردای خود فکر کنیم. "این حرف رئیس جمهور، بیانگر موضع قاطع وی از تطبیق پروسهٔ انتقال و سوق دادن کشور بسوی خودکفایی و تمثیل عملی حاکمیت ملی می باشد. با چنین موضعگیری روشن، رئیس جمهور خواست تا به آن عده کسانی که با ایجاد شکوک و شبهات و تحلیل های وارونه، قصد به تأخیر انداختن پروسهٔ انتقال را دارند، جواب رد بدهد و به ایشان بگوید ملتی که مدعی داشتن تاریخ درخشان، استقلال، آزادگی و حاکمیت ملی باشد، هرگز هم تا ابد چشم امید بسوی بیگانگان نمی دوزد بلکه تلاش خستگی ناپذیر بخرج میدهد که سرنوشت کشور را به دست خود رقم بزنند، امنیت را به همت خود تأمین کند و نانش را به آبلهٔ کف دست خود فراهم نماید. کمال کم همتی و قبول اسارت است که یک ملت راحت بخوابد و از خود کار و تحرکی نداشته باشد و همیشه در پی آن باشد که دیگران بیایند امنیت اش را بگیرند و سفره اش رنگین سازند ! چرا ما برای دیگران امنیت نگیریم و برای ایشان نان تهیه نکنیم؟ !

رئیس جمهور در ادامهٔ صحبت هایش به اعضای کابینه، هدف و پیامد مهم پروسهٔ انتقال را، تغییر ذهنیت حاکم و رهایی حلقات رهبری و سیاسی دولت از اسارت ذهنی وانمود کرد و خاطر نشان ساخت که متأسفانه برخی از نشرات خارجی بصورت منظم و یکنواخت تبلیغ می کنند که گویا در سلک دولتمردان افغانستان، توان و ظرفیت کاری وجود ندارد و بدون همکاری جامعه بین المللی کارهای بزرگ را پیش برده نمی توانند. رئیس جمهور این ذهنیت ایجاد شده کاذب را، تهدید جدی به هویت ملی خوانده فرمود: "تا زمانی که این روحیه (اسارت ذهنی) را از ذهن و روان خویش دور نسازیم، ما نمی توانیم به استقلال واقعی نایل شویم. "

درین جملهٔ کوتاه رئیس جمهور، خیلی از حقایق نهفته است و برای درک و فهم آن لازم است تا بدون مجامله و طفره روی دقت نمایم و به عمق آن پی ببریم و قبل از همه به این نکته توجه نمائیم که رابطه انتقال مسؤولیت های امنیتی از خارج به داخل، چه تأثیری بر روح و روان حلقات رهبری و سیاسی کشور دارد و چه باعث شده که جناب ایشان، ادامه این حالت را تحقق اسارت ذهنی و افتادن در دام وابستگی اغیار تعریف نموده اند و مجدانه در صدد آنست که خود، همکاران و بالآخره ملتش را از این مخمصه رهایی بخشد.

واقعاً که اسارت ذهنی، بدترین نوع اسارت هاست و هر قوم و ملتی که به این آفت گرفتار شد، به یقین که آن قوم دیگر روی سعادت، رفاه، وحدت و آزادی را نمی بیند و چه جای تأسف که این آفت دامنگیر ملت افغان شود، ملتی که ادعا دارد در طول تاریخ آزاده و سربلند زیسته و یوغ اسارت هیچ زورگوی و قلدری را به گردن ننهاده و چشم طمع و تجاوز هر مهاجم و کشور گشایی را کور کرده؛ مگر متأسفانه در نتیجه معامله گری های تاریخی همین "مشت اسیران ذهنی "از آن امپراطوری عظیم آریانای کبیر و خراسان بزرگ دیروز، یک قطعهٔ کوچکی محاط به خشکه بنام افغانستان در نقشه سیاسی جهان باقیمانده که مع الاسف برای قاپیدن آن، همه دشمنان اعم از دور و نزدیک چون افعی، دهن باز کرده اند که همین قطعهٔ کوچک را نیز ببلعند و دیگر نام و نشان کشوری بنام افغانستان در جغرافیای روی زمین باقی نگذارند. به همین خاطر است که جناب کرزی اسارت ذهنی بعضی حلقات را یک تهدید جدی به استقلال و حاکمیت ملی تلقی نموده و تیم همکاران و ملت خود را از آن برحذر ساخته است و به ایشان تأکید کرده که با تحقق پروسه انتقال دل و دماغ خویش را ازین بیماری روانی خطرناک (اسارت ذهنی) رهایی بخشند. یقیناً ملتی که اسیر ذهنی و روانی باشد، هیچگاهی آزاده شده نمی تواند و مفاهیم چون استقلال و حاکمیت ملی اش زیر سوال می رود.

رئیس جمهور ضمن خطاب به اعضای کابینه، به تاریخ گذشته افغانستان نیز اشاره مختصری نموده و امکانات و ظرفیت های دولت های سابق را کمتر از دولت فعلی دانست، ولی (بقول او) متأسفانه نظام ما از ابتدا با اسارت ذهنی مواجه گردیده است که از زمان اشغال شوروی سابق شروع و تا اکنون ادامه دارد. او به اعضای کابینه گفت: "اکنون زمان آن فرارسیده تا کشور را از اسارت ذهنی، از وضعیت استهلاکی، از دام وابستگی و حالت نابسامانی عقب ماندگی اقتصادی، بسوی خود کفایی سوق بدهیم. " نامبرده در قسمتی از سخنانش تجمل گرایی، عدم استخراج و منابع زیر زمینی و نادیده گرفتن دارایی های دست نخوردهٔ کشور را یکی دیگر از عوامل وابستگی و اسارت توصیف کرد و اکیداً به شورای وزیران توصیه کرد تا راه های بکارگیری این دارایی های ملی را جستجو کنند و در زندگی روزمره با پیشه کردن صرفه جویی در مصارف، چنان الگویی به مردم ارائه کنند که از اسراف و تجمل گرایی جداً احتراز نمایند.

امیدواریم که تمامی رسانه های تصویری صوتی و چاپی کشور اعم از دولتی و خصوصی، خصوصاً رسانه های نشراتی و تبلیغاتی دولت، با دادن شرح و بسط به این سخنان بنیادی و رهنمودی رئیس جمهور، پروسهٔ انتقال را آغاز نیک و اقدام مثبت در جهت تأمین صلح و ثبات و نیل به خود کفایی امنیتی و اقتصادی تلقی نموده و با نهادینه کردن استقلالیت ذهنی در دل و دماغ اقشار و طبقات مردم، پروسهٔ انتقال را تحقق ببخشند و بدینوسیله کشور را از دام وابستگی نظامی و اقتصادی و آفت اسارت ذهنی رهایی بخشند، تا اگر خدای بخواهد بدینوسیله در بعد سیاسی صاحب استقلال واقعی شویم و اذهان اولیای امور ما منهای نفوذ اغیار بیندیشند، اقتصاد ما بدون کمک دیگران سرو سامان یابد، نیروهای دفاعی و امنیتی ما به تنهایی قادر به تأمین امنیت شوند و جوانان ما با الهام از ارزش های دینی و با داشتن احساس ملی، برای ساختن فردای میهن وارد عرصهٔ کار و پیکار شوند.

کامیاب ژوند

امان الله ابراهیمزی

هر انسان د ژوندانه په هره برخه کې هڅه کوي چې د ځان لپاره کامیابه او آرام ژوند جوړ کړي. او دا د هر انسان ارزو دی چې د ژوندانه په هر ډګر کې بریالی واوسي خو له بده مرغه ښې خلك داسې هم شته چې د خپل ژوند د جوړولو په خاطر د بل چا ژوند ورانوي. او ژړا ته یې کېنوي هر انسان باید هڅه وکړي چې د ځان تر څنګ د نورو لپاره هم د یو کامیاب ژوند جوړولو هلې ځلې وکړي. کله چې موږ غواړو د ځان لپاره آرام ژوند برابر کړو. نو نه ښایي چې خپل سپېڅلی دین له یامه وغورځوو. په اوسنی ټولنه کې زیات خلك داسې شته دي چې د ژوندانه په یوه ځانګه کې هم د اسلام سپېڅلی لارښوونو ته پاملرنه نه کوي، او تل په دې لټه کې وي چې بوډای واوسي. موږ هله کولای شوو چې په صحیح معنی په خپل ژوند کې کامیاب واوسو چې د ژوند په هره برخه کې اسلامي لارښونی په خپل ځان عملي کړو او هڅکله هم د اسلام له مبارك دین نه سرغړونه ونه کړو موږ باید همېشه کوښښ وکړو چې د ژوندانه په اصل مفهوم پوه شوو. که څوك د ژوندانه په اصلي مفهوم پوه نشي هېڅکله نشي کولای چې د آرام ژوند خاوند شي. نو څکه زموږ لومړی ستر مسؤولیت دا دی. چې د انسان دهغه اهمیت نه ځان خبر کړو چې د الله دین ورته ورکړی دی. تر څو پورې چې موږ د الله دین ونه پېژنو او دانسان د اهمیت نه ځان خبر نکړو نو کله هم په خپله ټولنه کې د یو کامیاب ژوند بنسټونه نشو اېښودلای.

راځئ په ګډه خپل رب، دین او د انسان اهمیت وپېژنو او ټولې بدمرغیانی او ناخوالی له همدې لارې له منځه یوسو.

له روان ناورین څخه څنګه وتلی شو؟

محمد خلیل

د تېرې شنبې په ورځ د هېواد تر ټولو وزینه او له محتوا نه ډکه (افغان جرگه) ورځپاڼه مې لوستلو چې په دریمه پاڼه کې د گران لیکوال رشاد احمدزي صاحب، له روان ناورین څخه څنگه وتلي شو؟ تر عنوان لاندې یو زړه پورې مضمون سترگي ولگیدي، نوموړي پخپل ځای له دغه ناورین څخه د وتلو ډیرې ښې لارې ور په گوته کړي او خپل ایماني او افغاني مسؤولیت یې په صحیح توگه ترسره کړي. ځرنگه چې دغه عنوان ډېر جالب او په زړه پورې دی، او په دې اړه چې څومره لیکني وشي گټه به یې ډېره وي نو ځکه ما هم تر دې عنوان لاندې د خپل قابلیت مطابق یو څو کرښې د شهادت اونیزې محترمو لوستونکو ته ولیکلې الله دې وکړي چې گټور تمام شي.

زما په اند له روان ناورین څخه د وتلو یواځینې لاره د اسلام په سپېڅلي دین صحیح عمل دی، که چېرته د افغانستان وگړي واقعاً خپل اسلامي او ایماني مسؤولیت درک کړي او په دې خبره غور وکړي چې د یو مؤمن او مسلمان انسان لومړنی مسؤولیت څه شی دی او هغه په کوم حالت کې صحیح مسلمان او مؤمن پاتې کېدای شي؟ نو دغه د ضمیر آواز به همدا وای چې په واقعي معنی یوازې د الله تعالی بندگي او د محمد صلی الله علیه وسلم د اطاعت په کولو سره.

د (لا اله الا الله محمد رسول الله) کلمه هغه انقلابي کلمه ده چې کله یو انسان دا د زړه له تل نه په بشپړ اخلاص او صداقت ووایي او پر مفهوم یې ځان پوه کړي نو دغه په ژوند کې داسې یو لوی انقلاب راولي چې بیا دغه ټول ژوند د الله تعالی د حکمونو تابع وي، له الله جل جلاله پرته د هېڅا غلامي نه کوي او له محمد صلی الله علیه وسلم نه پرته بل هېڅوک لارښود نه نیسي.

اله: هغه هستي او طاقت ته ویل کېږي چې دهغه غلامي وشي، د هغه د عظمت په وړاندې خپل سرټیټ کړای شي، یوازې د هغه جل جلاله حمد او تقدیس ووایي، یوازې هغه خپل مالک او مختار وگڼي، یوازې هغه فرمانروا او قانون جوړوونکی وگڼي، یوازې د همغه د قانون پابندي وکړي، له څه نه یې چې منع کړي ترینه منع شي او د څه کولو امر چې ورته کړي هغه وکړي.

مطلب دا چې د زړه له ته د (لا اله الا الله) ویونکې دا اعلان کوي چې له الله نه پرته د بل هېچا عظمت او برلاسی نه منم، د بل چا له خانه جوړ شوي قانون په وړاندې سر نه ټیټوم، له الله نه پرته نور ټول له خانه جوړ شوي د دروغو خدایان نه منم.

په دې باره کې علامه اقبال هم یو ډېر ښه شعر ویلی دی:

ما دو تیغ لا و الا داشتیم
ماسوا الله را نشانه گذاشتیم

یعني موږ د لا او الا دوه توري لرو او دغو دواړو تورو په ذریعه د باطلو خدایانو نوم او نښه ختموو، او یوازې د الله د توحید بیرغ اوچتوو.

د کلمې دویم جز محمد رسول الله دی. ددغې کلمې په ویلو سره مسلمان د محمد صلی الله علیه وسلم د رسالت اقرار کوي یعني دهغه لپاره په ژوند کې د حق معیار صرف محمد صلی الله علیه وسلم وي.

د انساني هدایت او د تمدن د اصلاح لپاره یواخینې ذریعه د محمد صلی الله علیه وسلم د سنت اتباع ده، فقط دهمغه صلی الله علیه وسلم تر قیادت لاندې انساني قافله د ارتقا او فلاح پړاوونه وهلی شي.

هر څوک چې دغه پاکه کلمه په بشپړ اخلاص ووایي نو دهغه په زړه کې د ټولو باغي خواکونو په خلاف د جنگ څپې په غورځنگ کېږي، کله له شیطاني طاقتونو سره په جنگ اخته وي او کله د خپل سرکښ نفس سره. په انساني ټولنه کې تر هغې یو مثبت بدلون نشي راتلی تر څو چې له طاغوت څخه په بشپړ ډول ځان نه وي خلاص کړی. لوی الله پر طاغوت د کفر او اجتناب امر کړی دی او فرمایلي دي چې یوازې د یو الله بندگي وکړئ او د طاغوت له بندگي نه ځانونه وژغورئ. هغه مؤمن په صحیح معنی د ایمان خاوند دی چې له طاغوت نه منکر وي او یوازې د یو الله بندگي کوي، کوم خلک چې د الله تعالی پر قانون عمل نه کوي او هغه ته په خپل ژوند کې ځای نه ورکوي هغه د طاغوت غلام دی. طاغوت په لغت کې هر هغه چاته ویل کېږي چې له خپل جایز حد نه تیری وکړي، د قرآنکریم په اصطلاح له طاغوت نه هر هغه څوک مراد دی چې د بندگی له حدودو نه تیری وکړي، پخپله د خدایي دعوه وکړي او خلک دهغه د هرې خبرې منلو ته مجبور کړي. د طاغوت څو ډولونه دي چې څو یې په لاندې ډول دي:

۱- شیطان چې د انسان په وړاندې د دروغو شنه باغونه پیش کوي او لدې لارې هغه بې لارې کوي.

۲- د انسان خپل نفس چې هغه د خپلو خواهشاتو او جذباتو غلام گرځوي او په غلطو لارو روانوي.

۳- د انسان ښځه، اولادونه خپلوان او خاندان چې دهغوی د خوښې لپاره د الله قانون پښو لاندې کوي.

۴- د انسان خپل ماحول، قوم، ټولنه چې هغه د الله تعالی د بندگي پر ځای د رسمونو او رواجونو بنده گرځوي.

۵- هغه رهبران او مشران چې خلک دخپل له خانه د جوړ شوي قانون او منشور پابند گرځوي او د الله د اطاعت پرځای خپل اطاعت ته مجبوروي.

۶- هغه حکومت او حکومتي چارواکي چې د الله تعالی د قانون پر ځای پر خلکو خپل احکام جاري کوي او وړاندې عمل کولو ته اړ باسي.

که موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت پر زمانې نظر واچوو نو موږ ته دا جوتېږي چې په هغه وخت کې د اوسني زمانې په نسبت ظلم، جهل، نا انصافي، قتال، بداخلاقي، قمار، شراب، زنا، سود، قومي تعصب، شرک او کفر خورا زیات و، او له دنیا د ظلم او شرک په تیارو کې ډوبه وه، اخلاقي اقدار چانه پیژندل، د انسانانو وژل فخر گڼل کېده، هر چېرته د قوم، ژبې، رنگ او مذهبي تعصبونو اور بل و، چا به چې ډېر قتلونه کړي وو هغه به د قوم سردار او قهرمان گڼل کېده، خو دا هر څه هله ختم شول چې د الله له لورې نازل شوي دین یې ومانه، د محمد صلی الله علیه وسلم پر رسالت قانع شول یوازې د یو الله غلامي ته یې غاړه کېښوده، خپل ټول له خانه جوړ شوي مذهبونه او مسلکونه یې پرېښودل، له طاغوت او طاغوتي قوانینو څخه یې بغاوت وکړ، د اسلام سپېڅلي دین یې خپل قانون وگرځاوه د محمد صلی الله علیه وسلم بشپړ اطاعت او اتباع یې پخپل ځان لازم کړ.

د حضرت عمر (رض) په څېر د مکې سرکښ ځوان او د اسلام سرسخت دښمن د اسلام له قبلولو نه وروسته د تقوی داسې یوه نمونه او مثال وگرځیده چې د خلافت په وخت کې هم یې پیوندي جامې اغوستلې، د غریبانو د خدمت لپاره به پخپلو اوږو باروونه وړل، له وفات نه وروسته دومره قرضدار و چې دهغه اولاد د هغه د کور په خرڅولو یې ادا کړ.

د شرابو عادي خلکو چې ټول عمر یې د شرابو جامونه په سر اړول د شرابو د حرمت د اعلان له اوریدو سره سم د شرابو ډک جامونه وغورځول او په کوڅو کې له شرابو ډکې ټولې چاټې ماتې کړې، بې ستره ښځو د ستر آیت له نازلیدو سره سم خپل ځانونه ستر کړل، ددین د اعلا په خاطر هر څوک د جهاد میدان ته ووت، د الله تعالی ددین د سر لوړې لپاره هر چا خپل ځان او مال قرباني ته تیار کړ، پخپلو کې د کلونو کلونو دښمني کوونکې د یو بل ورونه وگرځیدل، د نسل، رنگ او ژبې ټول تعصبونه له منځه ولاړ او پخپلو کې د ورورۍ او همدردۍ داسې لاسونه ورکړل چې پخپله به یې نه خوړه خو خپل مسلمان ورور ته ورکوله ان تر دې چې په یو جهاد کې څو تنو اصحابو د شهادت په حالت کې هم له یو بل سره د ایثار او همدردۍ داسې ژوندی مثال وړاندې کړ چې د سختې تندې باوجود اوبه پخپله ونه څښلې او بل ورور ته د ورکولو اشاره کوله، لنډه دا چې دا دومره لوی بری صرف او صرف په صحیح معنی د اسلام د سپېڅلي دین په منلو ورته په برخه شوه موږ هم کولی شو چې له ټولو جنجالونو، ناورینونو او کړاوونو څخه خلاصون ترلاسه کړو خو په دې شرط چې یوازې د یو الله بندگي ته غاړه کېږدو، یوازې د همغه جل جلاله قانون ومنو، یوازې د محمد صلی الله علیه وسلم په نقش قدم روان شو، د طاغوت له بندگي څخه بشپړ ډډه وکړو، له خپل نفس سره جهاد وکړو، د (لا اله الا الله محمد رسول الله) د ویلو حقیقي حق ادا کړو، خپله خوښه د الله او رسول له خوښې قربان کړو د کبر او لويي له تخت نه کوز شو، د نفاق او اختلاف لاره پرېږدو، له قوم پرستي او اقربا پرورۍ نه لاس په سر شو، د نسل، رنگ، ژبې او سمت پرستي شیطاني بتان مات کړو، د اسلام سپېڅلي دین خپل قانون وگرځوو، خپل حکومت د خلفاء راشدینو په منهج روان کړو پخپلو کې سره د مینې او ورورۍ غېږه ورکړو او پردیو کلتور او رسمونو پرېږدو، خپل اسلامي کلتور ته وده ورکړو خپل ټول مسائل د قرآن او حدیث په رڼا کې حل کړو، ټگي، درغلي، دروغ، رشوت او بې عدالتي ته شا کړو، له خپل هېواد او ملت سره مینه وکړو، پخپل هېواد کې د یوه سوچه اسلامي حکومت د قیام لپاره صادقانه هلې ځلې وکړو. خو دا ټول هله ممکن کیدی شي چې موږ د خپل نفس د بندگي نه ځانونه خلاص کړو، خپل زړونه د ایمان په رڼا روښانه کړو، یوازې د یو الله عظمت ته ځای ورکړو، راسخه عقیده او قوي عزم پیدا کړو. د زړه هغه ټوټه اصلاح کړو چې محمد صلی الله علیه وسلم دهغې په باره کې فرمایلي دي چې که هغه اصلاح شي نو ټول بدن ورسره اصلاح کېږي او که هغه فاسده وي نو ټول بدن ورسره فاسدېږي. د زړه دغه ټکړه یوازې د الله تعالی ددین په منلو او قوي ایمان خپلولو سره اصلاح کېږي. لدې پرته د نجات هیڅ لاره نشته.

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(لسمه برخه)

س ۱۶۵: چا لومړی د لمانځه لپاره اقامت او وایه؟
ځ: عبد الله بن زید.
س ۱۶۶: چا لومړی د اذان کونکو لپاره مزدوري و ټاکله؟
ځ: عثمان بن عفان.
س ۱۶۷: چا لومړی په بیت المقدس کې اذان وکړ؟
ځ: ابو نعیم.
س ۱۶۸: لومړی لمونځ چې پیغمبر علیه السلام په جمعه وکړ کوم و؟
ځ: د ماسپښین لمونځ وه.
س ۱۶۹: چا د لومړي ځل لپاره په مسجد کې فرش خپور کړ؟
عمر بن خطاب رضي الله عنه.
س ۱۷۰: چا د لومړي ځل لپاره مسجدونه په نقشو ښایسته کړل؟
ځ: د مروان لمسی ولید د عبد الملک زوی.
س ۱۷۱: لومړی په کوم مسجد کې قرآن لوستل شوی دی؟
ځ: د بني زریق مسجد لومړی مسجد و چې قرآن په کې ولوستل شو.
س ۱۷۲: چا د لومړي ځل لپاره په مدینه منوره کې جمعه وکړه؟
اسعد د زراره زوی.
س ۱۷۳: په اسلام کې د جمعې په لومړي لمانځه کې د مسلمانانو عدد څومره وو؟
ځ: څلوېښت کسان.
س ۱۷۴: په عراق کې د جمعې لومړی لمونځ کوم و؟
ځ: هغه لمونځ و چې سعد بن وقاص د هجرت په شپاړسم کال د صفر په میاشت کې وکړ.
س ۱۷۵: لومړی جامع مسجد چې په مصر کې جوړ شو کوم و؟
ځ: د عمر بن العاص جامع مسجد چې په ۲۱ هجري کال کې جوړ شو.
س ۱۷۶: لومړی جامع مسجد چې په قطایع کې جوړ شو کوم و؟
ځ: د احمد بن طولون جامع مسجد چې په ۲۶۳ هجري کال کې جوړ شو.
س ۱۷۷: لومړی جامع مسجد چې په روضه کې جوړ شو کوم و؟
ځ: د عین جامع مسجد و چې په ۴۰۰ هجري کال کې جوړ شو.
س ۱۷۸: لومړی جامع مسجد چې په قاهره کې جوړ شو کوم و؟
ځ: د ازهر جامع مسجد چې په ۳۵۹ هجري کال کې جوړ شو.
س ۱۷۹: چا د لومړي ځل لپاره په خطبه کې دا آیت ولوستلو: [إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ...] سوره نحل: ۹۰ آیت؟
ځ: پنځم خلیفه، عمر بن عبد العزیز لومړی شخص و چې دا آیت یې د لومړي ځل لپاره په خطبه کې ولوستلو.
س ۱۸۰: چا لومړي ځل لپاره په خطبه کې دا آیت ولوستلو [إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ...] سوره احزاب: ۹۶ آیت؟
ځ: په عباسي خلیفگانو مهدي خلیفه پورتنی آیت د لومړي ځل لپاره ولوست.
س ۱۸۱: په بصره کې چا د لومړي ځل لپاره د کسوف لمونځ ادا کړ؟
ځ: عبد الله بن عباس.
س ۱۸۲: د ویرې لومړی لمونځ کله و؟
ځ: د ویرې لومړی لمونځ د هجرت په پنځم کال د ذات رقاع په غزا کې و.
س ۱۸۳: د پیغمبر علیه السلام د بیبیانو نه لومړی څوک وه چې پیغمبر علیه السلام پسې ورروسته وفات شوه؟
ځ: ام المؤمنین زینب بنت جحش رضي الله عنها.
س ۱۸۴: په بقیع کې لومړی څوک خښ شو؟
ځ: عثمان بن مظعون او ویل کیږي چې اسعد بن زراره و.
س ۱۸۵: چا د لومړي ځل لپاره د پیغمبر د وفات پر مهال پر هغه درود و وایه؟
ځ: عباس بن عبد المطلب.
س ۱۸۶: په اسلام کې چا د لومړي ځل لپاره میلمستون جوړ کړ؟
ځ: عثما بن عفان.
س ۱۸۷: چا د لومړي ځل لپاره د صفا او مروه تر منځ منډې و وهلې؟
ځ: د اسماعیل علیه السلام مور هاجري بي بي.
س ۱۸۸: لومړی جمرې کله وېشتل شوې دي؟
ځ: کله چې ابراهیم علیه السلام ته شیطان مخې ته شو نو هغه یې وویشتو.
س ۱۸۹: چا لومړی د ابراهیم علیه السلام د حج کولو اواز ته ځواب و وایه؟
ځ: د یمن خلکو.
س ۱۹۰: چا د لومړي ځل لپاره کعبې ته جامې واغوستې؟
ځ: اسعد الحمیري.
س ۱۹۱: چا لومړی کعبې ته دوه جامې جوړې کړې؟
ځ: د یمن والي (یعلی بن منبه)، او کار یې عثمان رضي الله عنه په امر وکړ.
س ۱۹۲: چا د لومړي ځل لپاره د مسجد نبوي ممبر ته جامې واغوستلې؟
ځ: عثمان بن عفان رضي الله عنه
س ۱۹۳: چا لومړی د اولادونو د مېندو خرڅول بند کړل؟
ځ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.
س ۱۹۴: چا د لومړي ځل لپاره خواړه د مصر نه مدني منورې ته یوړو؟
ځ: عمر بن خطاب (رض) او د بحر ایله له لارې یې یوړو.
س ۱۹۵: چا لومړی په اسلام کې ځمکه وقف کړه؟
ځ عمر بن خطاب. یوه زراعتي ځمکه وقف کړه چې ثمغ به ورته ویل کیده.

(نور بیا)

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

نړیوالو ورځپاڼو هر یو مسکو ټایمز او والستریت ژورنال په افغانستان کې د روانو مظاهرو په مقالې او تحلیلونه لیکلي چې تاسو ته وړاندې کېږي.

مسکو ټایمز:

مسکو ټایمز ورځپاڼې د ملګروملتونو د هغه کارکونکي د ژوندي پاتې کېدو په اړه یوه لیکنه خپره کړې، چې په مزارشریف کې د ملګروملتونو پر دفتر په وروستي خونړۍ حمله کې راګیر وو.

ورځپاڼه لیکي، افغانانو چې په مزارشریف کې یې د ملګرو ملتونو له دفتره هوا ته د لوګیو د پورته کېدو ننداره کوله، د دغه دفتر دننه یوائحنی روسي کارکونکی چې په درې یې خبرې کولې، له دغې خونړۍ حملې ژوندی پاتې شو، خو د مسکو ټایمز په وینا د ملګروملتونو نور کارکونکي طالع من نه و.

د ملګرو ملتونو پردفتر د تیرې جمعې د ورځې په حمله کې د ملګرو ملتونو درې کارکونکي، څلور نیپالیایي ساتونکي او د دووافغانانو په شمول چې سرونه یې پرې شوي و، شاوخوا شل تنه افغانان ووژل شول.

د افغانستان لپاره د ملګروملتونو د عمومي منشي خاص استازي ستیفن دې میستورا خبریالانو ته ووېل، چې په مزارشریف کې په امریکا کې د یوه پادري له خوا د قرانکریم د سوځېدو په وړاندې سوله ییزه مظاهره هغه مهال په تاوتریخوالي بدله شوه چې د وسله والو طالبانو یوې ډلې د مظاهره چیانو له منځه د ملګرو ملتونو پر دفتر حمله وکړه.

د حملې په مهال د ملګرو ملتونو روسي کارکونکي پاول یورشوف او د هغه درې نورهمکاران د دفتر خوندي خونې ته وتښتیدل. کله چې قهرجنو مظاهره کونکو د خوندي خونې دروازه ورماته کړه، یورشوف لومړنی کس وچې هغوی ته یې په دري ژبه هر کلی ووایه.

حمله کونکو د هغه درې تنه ملګري له خوندي خونې راوایستل او په ډزو یې ووژل.

والستریت ژورنال:

والستریت ژورنال ورځپاڼې هم د دې پېښې په اړه یو مطلب خپور کړی او د پیل په کرښو کې لیکي:

چارواکي دغې پېښې ته چې د افغانستان په شمال کې تر ټولو لوی ښار کې وشوه، د یوې خونړۍ دسیسې رنګ ورکوي.

خو ورځپاڼه د ناخپرو شوېو ویډیوګانو، له مظاهرچیانو سره د مرکو او د دغې حملې په اړه د ملګروملتونو د څېړنې په اساس د دې پېښې یو پیچلی تصویر ورکوي، داسې یو تصویر چې په دغې حمله کې د عادي مظاهره چیانو د اساسي ونډې ښکارندویي کوي.

د سرمقالې پاتې برخه

هغوی کله د قرآن کریم یا د محمد صلی الله علیه وسلم بې حرمتي کوي نو د هغوی په خلاف دې د مظاهرو په صورت کې د خپلو مسلمانو ورونو په وژلو او دهغوی د مال او آل په تباه کولو لاس پورې کړي.

د قرآن کریم او نورو ټولو دیني مقدساتو ریښتونی دفاع داده چې قرآن کریم او نبوي سنت خپل قانون او محمد صلی الله علیه وسلم خپل مقتدی وګرځوو، په هر کار کې د خپل پیغمبر اتباع وکړو او دهغه صلی الله علیه وسلم په نقش قدم روان شوو.

د اسلام د دښمنانو مرګ او ناکامي په دې کې ده چې په صحیح معنی د اسلام په سپېڅلی دین څانونه پوه او وربانډې عمل وکړو، په خپل اصلي بڼه کې یې نورو ته ورسوو، د تبلیغ او بلنې لمنه پراخه کړو، داسې هېڅ قدم پورته نه کړو چې په خپل لاس د اسلام دښمنان غښتلي او خپل دین کمزوری کړو.

که الله مکړه موږ خپل د مظاهرو دغه اوسنی روش او لاره بدله نکړو او هسې تش په شعارونو او پخپل هېواد کې له تشدد نه ډکو مظاهرو او ورور وژنو د لارې د دیني مقدساتو د ساتلو دا لړۍ جاري وساتو نو موږ به پخپل لاس د اسلام او مسلمانانو په کمزوری کولو کې د نصاراو او یهودانو متې غښتلي کړي وي.

راځئ د یهود او نصاراو د توطیو د شنډولو لپاره د مبارزې هغه مؤثره لاره خپله کړو چې زموږ خوږ نبي محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه اصحابو کرامو خپله کړې وه. او هغه لاره داده چې د یهودو او نصاراو د قانون د خپلولو پر ځای د اسلام سپېڅلی دین پخپل هېواد کې حاکم کړو او داسې ګام هرګز اوچت نکړو چې د قرآن کریم او نبوي سنتو په خلاف وي.

اختلاف در کابینهٔ اوباما ...

مشاورین سیاسی "باراک اوباما" رئیس جمهوری امریکا خواستار آن هستند که وعده وی در مورد کاهش قابل توجه نیروهای امریکایی در افغانستان بطور قطعی تحقق یابد. ولی جنرال‌های امریکایی عقیده دارند که این اقدام به نفع نیروهای طالبان بخصوص در مناطق شرقی و جنوبی این کشور تمام خواهد شد.

مقامات نظامی امریکایی تردید دارند که خروج نیروهای نظامی این کشور و بدون حمایت نظامی گذاشتن ارتش افغانستان بتواند در تضعیف نیروهای طالبان در این مناطق کمکی کند.

اوباما در زمان صدور فرمان خروج تدریجی نیروهای امریکایی از افغانستان در دو سال قبل بوضوح گوشزد کرده بود که سربازان جبهه آخر در ماه جولای سال ۲۰۱۱ خاک این کشور را ترک خواهند کرد و اکنون زمان تحقق این وعده بسر رسیده است. ضمن اینکه خروج نمادین و غیرواقعی هم برای وی چاره ساز نخواهد بود.

اوباما و مشاورینش فراموش نکرده‌اند که در وضعیت کنونی انتخابات آتی به نفع وی تمام نخواهد شد. آخرین نظرسنجي‌ها نشان داده است که افکار عمومی در امریکا دیگر از عملیات نظامی در افغانستان حمایت نمي کنند و بیش از ۶۵ درصد از شهروندان این کشور دلیلی برای ادامه جنگ در افغانستان نمي‌بینند.

اطلاعات منتشره اخیر در مورد هزینه گزافی که جنگ افغانستان بر دوش مالیات پردازان وارد مي کند، بطور قطع بر تصمیم رئیس جمهوری امریکا در این رابطه تاثیر خواهد داشت. انتظار مي‌رود که هزینه های این جنگ در سال جاری به ۱۲۰ میلیارد دلار برسد.

البته افزایش تعداد نظامیان ارتش و پلیس افغانستان که بر اساس برنامه تنظیم شده در حال حاضر به ۳۷۸ هزار نفر رسیده، برای دولت امریکا کم هزینه نخواهد بود و برای اجرای این هدف نیاز به ۸ میلیارد دلار بودجه است.

سرپرست وزیران به ژر ولسي ...

خاصه محکمه پرېکړه کوي ولسي جرګې ته د کابینې د غړیو معرفي کول او د هغوی له لوري وزیرانو ته د اعتماد رایې ورکول د ولسي جرګې پر مشروعیت د تایید د ټاپې لګولو مانا لري.

دوی پوښتنه کوي چې که اختصاصي محکمې د اوسنی ولسي جرګې یوشمېرغړي د درغلۍ په جرم له وکالته محروم کړل، هغه وخت به د دې جرګې پرېکړه څه قانوني حیثیت ولري؟

وحید عمر دقیقاً ونه ویل چې کله به سرپرست وزیران ولسي جرګې ته معرفي شي خو ویې ویل چې دا کار به ژر وشي.

ده دا هم ونه ویل چې ایا اوسني سرپرست وزیران به هماغو وزارتونو ته معرفي شي چې اوس پکې کار کوي او که نورو وزارتونو ته به معرفي شي.

د قوانینو پراساس د هر وزارت کاندید چې یو ځل د ولسي جرګې له لوري رد شي، بیا نه شي کېدای چې هماغه وزارت ته معرفي شي.

تاند ته یوې سرچینې وویل چې ممکن ښاغلی کرزی اوسنی څېرې د نویو وزارتونو لپاره معرفي کړي. دې سرچینې د مثال په توګه وویل چې احتمالاً امیرزی سنګین به، چې اوس د مخابراتو او مالوماتي ټکنالوژۍ سرپرست وزیر دی، د اوبو او انرژۍ د وزیر په حیث معرفي شي.

محصلین پوهنتون کابل ...

و بیش از ۱۰۰ تن کشته و زخمی شدند.

احزاب و گروه‌های مذهبی افغانستان با صدور بیانیه ای مشترک در واکنش به سوزاندن قرآن کریم توسط کشیش امریکایی، این عمل را محکوم کرده‌اند.

رئیس جمهور حامد کرزی نیز با صدور اطلاعیه ای خواهان محاکمه تری جونز شده است.

حامد کرزی تظاهرات مسالمت آمیز را حق مردم افغانستان دانسته اما خواهان مجازات کسانی شده که از احساسات پاک مردم افغانستان سوء استفاده کرده و دست به خشونت زده‌اند.

هیئتی از سوی دولت افغانستان به شهرهای "مزارشریف " و "قندهار "اعزام شده تا در این مورد تحقیق کنند.

یوه افغان پولیس د ایساف ...

خو اسوشیتید پریس او فرانس پریس خبري اژانسونه وایي چې داسې ښکاري چې حمله کوونکی د افغان پولیس نه وو بلکې د پولیسو یونیفورم یې په تن کړی وو.

فرانس پریس ویلي چې پېښه په فاریاب کې شوې ده.

دا په تېرو لسو کلونو کې څویمه پېښه ده چې د ایساف ځواکونو له لوري روزل کېدونکي افغان ځواکونه پر نړیوالو پوځیانو ډزې کوي.

د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په دوهمه په میدان وردګ ولایت کې یوه افغان پولیس دوه امریکایي پوځیان په داسې حال کې ووژل چې هغوی په درانه خوب ویده ول او دوه نور یې ټپیان کړل.

د افغان پوځي چارواکو په وینا په هرات ولایت کې یوه افغان عسکر یو امریکایي پوځي ووژه او دوه ایټالیایي پوځیان یې ټپیان کړل.

تردې مخکې یوه افغان پولیس په هلمند کې پنځه بریتانوي پوځیان وژلي ول. د هغې حملې په باب طالبانو ویلي وو چې حمله د دوی د یوه پلوي افغان پولیس له لوري شوې وه.

د بهرنیو ځواکونو له لوري د ملکي افغانانو بې رحمانه وژنې سبب کېږي چې افغانان د بهرنیو ځواکونو پر وړل کېدوله دې سره سره خوشاله شي چې دا حقیقت د سر په سترګو ویني چې که نړیوال ځواکونه له افغانستانه ووځي، افغانستان به یووار بیا د پاکستان او ایران منګولو ته ولوېږي.

د ایران او افغانستان ترمنځ ...

راکړه ورکړه عملي شي.

په وروستیو کې د افغانستان د عدلیې وزارت یو پلاوی ایران ته تللی وو او د ایران له حکومت سره یې یوه عدلي او قضایي موافقه لاسلیک کړې وه.

د افغانستان د عدلیې وزارت مسلکي مرستیال ډاکټر محمد قاسم هاشمزي ازادي راډیو ته وویل، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د شوې موافقې یوه فقره یو بل ته د مجرمانو له سپارلو سره ارتباط لري، خو دا چاره یوې جلا موافقې ته اړتیا لري.

ډاکټر هاشمزي وویل، چې له ایران څخه یې غوښتي دي د افغان بندیانو دقیق شمېر ور وښیي.

سره له دې، چې ایراني چارواکو په خپله خاوره کې د بندي افغانانو دقیق شمېر نه دی اعلان کړی، خو ویل کېږي چې په ایران کې په زرګونو افغانان بندیان دي او یو شمېر یې په اعدام محکوم شوي دي.

د ایران او افغانستان ترمنځ د مجرمانو د استرداد د قانون تصویبېدا به مرسته وکړي چې دا بندیان خپل هېواد ته انتقال شي.

هلیکوپترهای روسی دوباره ...

حیث مشتری اصلی این هلیکوپتر ها شناخته شده است. به نوشته جریده روسی وقتی این هلیکوپتر ها به جناح افغانستان سپرده شود. تعداد هلیکوپتر های ساخت روسی در قوای هوایی آن به یک صد بال خواهد رسید. نشریه نوشته است در این معامله ترمیم اساسی هلیکوپتر ها نیز شامل می باشد که روسها آن را به عهده خواهند گرفت.

نشریه به ادامه می نویسد که مذاکرات مربوط به خریداری این هلی کوپترها در پنج سال گذشته دوام داشته است. به گفته این نشریه، رهبری افغانستان این هلیکوپترها را به سببی پسندیده است که پرواز آن ساده بوده، در شرایط آب وهوای افغانستان توافق داشته و هم پیلوت های افغانستان با این نوع هلیکوپتر ها آشنایی کامل دارند. در ضمن به مقاصد مختلف می توان از آن ها کار گرفت. نشریه می نویسد در ابتدا چنین گفته می شد که ممکن روسیه این هلی کوپتر هارا به عنوان غرامت جنگی به جناح افغانستان بسپارد. شوروی سابق ده سال تمام در افغانستان جنگیده است. قرارداد تحویل دهی این هلیکوپترها تا هنوز به این سبب معطل بوده است که افغانستان پول نقد در اختیار نداشت تا قیمت آنها را بپردازد.

نشریه می نویسد هدف اصلی خریداری هلیکوپترهای نوع "آی ام هفده" این است تا از این طیارات در عملیات ایساف و امریکا استفاده صورت گیرد از همین لحاظ روسیه تاکید داشت تا پول آن را دریافت کند. نشریه می نویسد وقت زیادی سپری شده و روسیه حاضر نشده تا به صورت رایگان این هلیکوپتر ها را به افغانستان بدهد. بالاخره فیصله به این شد تا امریکا پول آنرا بپردازد و بعداً سایر اعضای ناتو با مرور زمان این پول را به امریکا بازپرداخت نمایند.

نشریه به ادامه می نویسد صندوق وجهی را که ناتو می خواهد برای افغانستان باز نماید ممکن است مصارف ترمیم و فعال نگه داشتن این هلیکوپترها را به عهده گیرد. به نوشته جریده روسی تا هنوز رقم پول این صندوق معلوم نگردیده و این به تعهد کشور های عضو بستگی دارد. در نظر است این صندوق ذخایر پرزه، مواد سوخت، اسلحه، تربیه پیلوتها و مخارج فعال نگاه داشتن این طیارات را تمویل نماید. نشریه در پایان می نویسد که روسیه در حال حاضر تنها به همین یک معامله قناعت مگر با آنهم از مأموریت بین المللی پشتیبانی نموده است.

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"

مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې

دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲

مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱

مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.

• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.

• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ دخوشحال خان مینه، کابل - افغانستان

Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com